Afghanistan Digital Library

adl0691

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 1 of 16

# نظامنامه

(د)

# تقاوي د سوداګرۍ

په (۲۲) د اسد سنه ۱۳۰۶ هجري شمسي

په مطبعه کښی د ,,شوکت رفیق،، کابل

کښی چاپ شویدی

قیمت د یوی نسخی (۲۰) پول

شمار د چاپ ........................(۶۰۰)

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 3 of 16



بسم الله الرحمن الرحيم

# نظامنامه مبارکه د تقاوو د سوداګرۍ

(۱):- هر څومره تقاوی چه لپاره د ننه نی او باندنی سوداګری ورکوله کیږی، مرجع او څانګے د ورکول د هغه وزارت تجارت دی.

(۲):- پیسه د تقاوی په هر کال کښی له اوله د میاشتی د حمل څخه تر آخره د هغی په قرار د واثلونکو شرطونو سره ورکوله کیږی او علاوه د رسولو د قسطو د هغه له اوله د حمل د نوی کال څخه شروع کیږی چه په هر کال

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 4 of 16



کښې په مدّت دیوی میاشتې دحَمَل د همغه کال د رسوی .

(۳) همغه څوك چه خواهش د وجه د تقاوی لهٔ دولت څخه وکړی، که غیرِ منقولی جایداد یی په دوه لهٔ همغه مبلغ نه چه ئې غواړی لوی لې، او تصدیق د لوړو د همغه کلانتر د کوڅې یا قریه دار دوی وکړی چه ترو قته د پلاټه ورکولو د همغه تقاوی، ددوی ترنګرانی لاندی وی په کروپه او خرڅولو، او ضمانت بل جائد ورنکړه سی، بل علیحده ضامن ته حاجت نشته همغه اعتبار دخپل جایداد د ده کافی دی .

(٤) :- همغه څوك چه سم له (۳) قاعدی سره څخه غیرِ منقول جایداد نه لري، برابر له وجه د تقاوی سره آخستل د ضامن شرط دی چه تصدیق او نګرانی د جایداد دضامنانود

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 5 of 16



هغه په قرار د رښتانه بیان د (۳) قاعدې
سره کلانتر د کوڅې یا قریه دار د دوی
وکړي.

(۵):- هغه کسان چه تقاوي آخلي، شرعي حجت د
مبلغ د تقاوي چه په هغه کښ وعده د بیرته
ورکولو وجه د تقاوي معلومه وي سره له
ضمانت خط، یا سیاهه د شخصي جایداد دخیل
چه سم له (۳) او (٤) قاعدې سره تصدیق د
کلانتر یا د قریه دار ولري وزارت تجارت ته
به ئې سپاري.

(٦):- وزارت تجارت، پس له آخستلو د حجت او
ضمانت خط، یا تصدیق کړې شوې جایداد د
دخیله آسامي، مبلغ د تقاوي به خزانه د دولت
بانک ته حواله ورکوي.

(۷):- خزانه دار د دولت وجه د تقاوي په موجب

د برات د وزارت تجارت، پس له ثبت او تصدیق
د وزارت مالیه نه، هغو کسانو ته چه تقاوی اخلی
ورکوی به ئی.

(۸):- وعده د رسولو د وجه د تقاوی په دی شان
سره دی چه لاندی بیل بیل بیانیږی:-

الف:- هغه تقاوی چه لپاره د سوداګری د اخلی
اجناسو او د هغه شیانو چه په مملکت د
افغانستان کښ منډل کیږی، ورکوله
کیږی، په وعده د دوه ولس کلونو پله سی:
په هر کال معلومداره وقت کښ دوولسمه
برخه د هغه به رسوی، چه په آخر د دوولسم
کال مبلغ د تقاوی چه دوی وړی دے
پوره خزانی د دولت ته ورسیږی.

ب:- هغه کسان چه وجه د تقاوی لپاره د
سوداګری د خارجه آخلی، په وعده د لسو کلو

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 7 of 16



کال په کال په معلومداره وقت کښې
برلسمه برخه د هغه په خزانه د دولت
کښې تحویلوي.

(۹):- هغه څوك چه په هغه معلومداره وقت
کښې وجه د تقاوي ونه رسوي، باقي مبلغ
د مقرري قسطونو په واسطه د محصّل
شل ئې پنځه ولشت له هغو څخه آخستل
کیږي.

(۱۰):- هغه کسان چه لسمه یا دوُلسمه برخه د
وجه د تقاوي ئې چه وړي دي، کال په
کال ئې خزانه کښې تحویله وي، په اندازه
د پنځمه برخه د مبلغ د قسط د یو کلن
تقاوي خپل په تکت د صکوکات چه په
خزانه د دولت کښې موجود دي له خزانې
د دولت څخه اخلي وسیل د قسط د تقاو

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 8 of 16



خپل پوری یه ئې سرینبي، او د وزارت
تجارت له نظره به ئې تیره وی.

(۱۱):- هغه مبلغ چه لپاره د تقاوی د سوداګری
ورکاوه کیږی، غیرله سوداګری څخه په نورو
کارو کښې ئې معامله او بدلی نه شی،
هم داسی شان په هغه مبلغ کښې چه په نومړ
سوداګری د داخلی اجناسو آخلی، خارجی
سوداګری کښې اجازه ورلره نشته

(۱۲):- هغه کسان چه وجه د تقاوی آخلی، په سودا
ګری او محصول د دوی کښې نسبت تیرو کړلو
او مبلغ د تقاوی ته ترقی منافع نه کړی،
د دوی کاله پله پسی په محصول ورکولو
د دوی کښې زیاد والی ونه لید شی، پس له معلومو
د اداره د ګمرک څخه وزیر د تجارت، اخستی
شوی پیسه د تقاوی د داسی شان کسانو

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 9 of 16



په یو کال کښې په قسط د دولس میاشتو کاملاً
له خپله دوی تنخه ، او که خپله یې جایداده
وی له ضامنانو د دوی تنخه په قرار د ریزش په
مبلغ د ضمانت باندی بیرته ئی تحصیل او تحویل
د خزانی کولای شی . اول د عقرب سنه ۱۳۰۱

ضمیمه

(۱۳): هغه کسان چه په ولایتو او اعلی حکومتیو کښې
خواهش د تقاوی وکړی ، مجلسو د مشوری
ته به عرض کوی ، هرکله که لپاره د
تقاوی د هغه ولایت ، په بودجه کښې یو معلوم
مبلغ منظور شوی وی ، نائب الحکومگان او اعلی
حاکمان بنا په قرار داد د مجلسو د مشوری له
هغه مبلغ نه بسم له نظامنامی سره هغو کسو ته ورکوو
ته چه دوی پوری تعلق لری ورکاوه ئی
به ئی .

http://hdl.handle.net/2333.1/b8gthtcv Image 10 of 16



اوکه لپاره د تقاوی د ولایتو په بودجه کښی یو مبلغ معین، نه وی منظور شوی، په موجب د تصویب د مجلس د مشوری، نائب الحکومګان او اعلیٰ حاکمان، پس له آخستلو د منظوری د وزارت تجارت، سوداګرو د علاقی د حکومتو خپلو ته تقاوی ورکولای شی.

(۱٤) هغه کسان چه لپاره د سوداګری د اصول د شرکت چه وزارت تجارت له خوا اساس او جوړه شوی د هغه منظور یږی، له دولت څخه خواهش د تقاوی وکړی سم له قاعده و د تجارت خارجه سره په کال دوه واری په میاشت د حمل او میاشت د میزان کښی د وی لره تقاوی ورکوله کیږی.

قسطونه د هغی تقاوی په نویو راتلونکو کلونو کښی په هغه میاشتو کښی ئی چه تقاوی اخسته

ورکوی به ئی .

لسمه د تقاوی د اصول د شرکت چه کال پر کال
خزانه کښی تحویلوی ، په اندازه د لسمه برخه
د مبلغ د یو کلی قسط خپل باندی بر تکت
د مسکوکات چه په خزانه کښی موجود
دی له خزینی ثخه به ئی آخلی رسید د
قسط د تقاوی خپل پوری به ئی سرینی، او
د وزارت تجارت له نظره به ئی تیره وی،
په اجرا کولو د قاعدو د دی نظامنامی وزارت
تجارت مامور دی .

تحریر فی تاریخ ٦ برج ثور سنه ١٣٠٢